شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۸۰ ګڼه / شنبه د محرم‌الحرام ۱٦ مه ۱٤٤۷ هـ.ق / د چنګاښ ۲۱ ۱۴۰۴ هـ.ش / د جولای ۱۲ مه ۲۰۲۵ میلادي

ریاست‌الوزراء:

هنگام اخراج از نقض حقوق و تحقیر مهاجرین افغان خودداری کنید

مقام‌های امارت اسلامی افغانستان از دولت ایران خواسته‌اند تا هنگام اخراج مهاجرین افغان از این کشور از نقض حقوق و تحقیر کردن آنان خودداری کنند.

بربنیاد بیانیه،امارت اسلامی افغانستان اخراج مهاجرین افغان که فاقد مدرک قانونی اقامت هستند را تصمیم مسئولین ایرانی دانسته و تاکید کرده که همواره از دولت ایران خواسته شده تا در این روند به اصول تدریج، آبرومندی و حسن همجواری توجه کنند.

در بیانیه همچنان آمده که مسئولین دولت ایران به مهاجرین افغان اجازه دهند تا دارایی‌های منقول و غیرمنقول‌شان را قبل از ترک خاک این کشور تصفیه کنند.

فراهم‌سازی تسهیلات لازم به مهاجرین در توقف‌گاه‌ها در هوای گرم کنونی از دیگر خواست‌های مطرح‌شده در بیانیه است.

همچنان ریاست‌الوزراء از کمک‌های مردمی شهروندان کشور با مهاجرین ابراز امتنان کرده و توفیقات بیشتر در این راستا برای آنان استدعا شده است.در بیانیه تاکید شده که مقام‌های ... ص۳

د ملا برادر په مشرۍ؛ ایکو سازمان کې د مطرح‌شویو موضوعاتو په اړه تعقیبي غونډه

د ایکو سازمان په څنډه کې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د مطرح‌شویو موضوعاتو د تعقیب په موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د اړوندو وزارتونو له مسئولینو سره په مرمرینه ماڼۍ کې غونډه ترسره شوې ده.

د اقتصادي معاونیت د خبر له مخې؛ دې غونډه کې د ازبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان او اذربایجان هېوادونو له مشرانو سره د ایکو سازمان د ۱۷مې سرمشریزې په څنډه کې د مطرح‌شویو موضوعاتو د تعقیب په موخه بحثونه شوي دي.

سرچینې لیکلي چې په غونډه کې اړوندو وزارتونو او ادارو ته د خپلو کارونو د جدي تعقیب ... ص۳

مولوي امیرخان متقي:

استانه له پخوا د افغانستان اړوند غوره دریځ لري

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي د قزاقستان جمهوریت د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي مرات نورتلیو سره په کابل کې کتلي دي.

دې کتنه کې دواړو لوریو د دوه اړخیزو اړیکو پر پراختیا، اقتصادي همکاریو، سیمه‌ییزو فرصتونو، ترانزیتي پروژو او سیاسي ښکېلتیا په تړاو هر اړخیزې خبرې اترې کړې دي.

مولوي امیرخان متقي د افغانستان اړوند د قزاقستان جمهوریت له مثبت دریځه مننه کړې او هیله یې څرګنده کړې، چې د سیاسي او اقتصادي تعامل د لا پراختیا په موخه له شته فرصتونو ګټه واخیستل شي. ښاغلي متقي زیاته ... ۳مخ

اخراج مهاجرین افغان نباید سبب وخامت روابط مردم افغانستان و ایران شود

مولوی عبدالکبیر، سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان می‌گوید، اخراج‌اجباری مهاجرین افغان از ایران نباید سبب وخامت روابط میان مردمان افغانستان و ایران شود. وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان این مطلب را به نقل از آقای مولوی عبدالکبیر بیان کرده است. بربنیاد خبرنامه، سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان در دیدار با علی‌رضا بیکدلی، سفیر ایران مقیم کابل تاکید کرده که مقامات ایرانی باید بموقع به مشکلات افغان‌ها رسیدگی کنند. او تاکید کرده که طرح برگشت داوطلبانه ... ص۳

راه‌اندازی پروژه‌ها تسهیلاتی برای رسیدگی به مهاجرین در هرات

مقام‌های محلی ولایت هرات می‌گویند، برای رسیدگی به وضعیت مهاجرین اقدامات تسهیلات اساسی به هزینه ۱۶ میلیون افغانی در این ولایت عملی شده است.

بربنیاد خبرنامه، ساخت آشپزخانه‌های بزرگ به هدف تهیه غذای پخته به مهاجرین، ایجاد توقف‌گاه وسایط جهت جلوگیری از ازدحام، فراهم‌سازی ۲۰ کانتینر و یک هنگر بزرگ برای ... ص۳

سړنی کانکور پای ته رسېدلی

د ازموینو ملي ادارې مسئولینو ویلي چې د روان ۱۴۰۴ کال کانکور ازموینې په رسمي ډول پای ته رسېدلې دي.

سړنی کانکور د ځوارلسم‌فارغو، له پولې د باندې، قبایلو، د تېرو کلونو ناسوبو، دیني مدرسو او د شپې پوهنځیو د داوطلبانو په ازموینې سره پای ته رسېدلی دی.

د سړني کانکور په وروستۍ ازموینه کې د ازموینو ملي ادارې مسئولینو، د کابل پوهنتون د محصلانو چارو مرستیال او د دې پوهنتون استادانو ګډون کړی و.

د ازموینې ملي ادارې غړو ویلي چې د سړني کانکور پایلې به هم د تېرو کلونو په پرتله په رنه ډول اعلان شي.

یاده دې شي، چې د سږکال کانکور په څلورو پړاوونو کې اخیستل شوی، چې درې پړاوه یې ولایتونو، یو یې کابل ولایت او درېیم پړاو یې ناسوبو، دیني مدرسو، اختصاصي او د شپې پوهنځیو داوطلبانو په ګډون پای ته ورسېد.



سرمقاله

نسل‌های آینده را با تاریخ فداکاری‌ها و قربانی‌های اسلام آشنا سازید!

اسلام یک دین الهی است که از مسیر خون‌ها، هجرت‌ها، زندان‌ها و قربانی‌های بی‌شمار به ما رسیده است. این دین پاک، به برکت ایثار و فداکاری آن انسان های پاک‌دل تا امروز کامل و زنده باقی مانده است؛ کسانی که برای رضای خدا، سرهای خود را فدا کرده، خانه هایشان را ترک گفته و جام شهادت را نوشیدند و از لذت ها و رفاه دنیا چشم پوشیدند.

نسل آینده باید بدانند که برای برقراری حاکمیت اسلامی، از امت ما قهرمانانی برخاستند که از توپ و تانک و بمب‌های دشمن نهراسیدند. آنان کمربندهای انفجاری را بر سینه های خود بستند، از دنیا روی گرداندند و جان خود را در راه نصرت دین خدا فدا کردند.

تاریخ جنبش‌های اسلامی، داستان مبارک ظهور امارت اسلامی و پیروزی‌های مجاهدان مؤمن در برابر قدرت‌های بزرگ باید در ذهن نسل جوان ما نقش ببندد. باید درک کنند که امارت اسلامی صرفاً یک گروه سیاسی نبود؛ بلکه یک حرکت عملی برای احیای حاکمیت دین خدا بود که غرور پنجاه قدرت کفر را به زیر کشید.

فداکاری بی‌مانند مجاهدان این تحریک، باید الهام‌بخش نسل آینده باشد، کسانی که بدون توجه به مرزهای جغرافیایی، با نیروی ایمان، پیام و مبارزه خود را به آن سوی مرزهای مصنوعی رساندند.

شجاعت آن ها در برابر سرما، گرما، گرسنگی، تشنگی و تنهایی، چون سخت ترین فولاد زمانه است!

باید در ذهن نسل جدید ثبت شود که مبارزین راستین همان حرکت جهانی جهادی بود که بر پایه توحید خالص، مبارزه‌اش را علیه دنیای صلیبی آغاز کرد. آن‌ها برای منافع یک قوم، زبان یا منطقه خاص قیام نکردند؛ بلکه برای برقراری حاکمیت اسلامی، زندگی پر از فداکاری را برگزیدند. ص۳

د اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې د روسیې اصلي هدف څهٔ دی؟ ۲مخ

د محرم‌الحرام میاشتې په اړه څو لنډې کرښې ۲مخ

بیش از ۲۴۰ جریب زمین در بغلان دولتی تشخیص شد

وزارت عدلیه اعلام کروه که هیئت تخنیکی جلوگیری از غصب زمین در ولایت بغلان ۲۴۲ جریب زمین را دولتی تشخیص کرده است.

به گفته وزارت عدلیه، زمین‌های یادشده در قریه «سه پیچ گرداب» ولسوالی بغلان مرکزی ولایت بغلان موقعیت داشته و به‌عنوان ملکیت دولتی تشخیص داده شده است.

هیئت تخنیکی جلوگیری از غصب زمین در ولایت بغلان فیصله کرده تا دوسیه زمین‌های متذکره جهت فیصله به محکمه اختصاصی، راجع شود.

در خبرنامه آمده که در نشست هیئت تخنیکی روی برخی زمین‌های دیگر نیز در ولایت بغلان بحث صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ شده است.

این در حالی است که دو روز پیش وزارت عدلیه از استرداد بیش از یک‌هزار و ۵۰۰ جریب زمین در ولایت غور نیز خبر داده بود.

د ترکمنستان ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا به ګڼې ستونزې هوارې کړي

د افغانستان برېښنا شرکت د یاد شرکت د رهبرۍ او «افغان انوېسټ» کمپنۍ د مسئولینو ترمنځ د ګډې غونډې خبر ورکړی، چې په کې له ترکمنستان څخه د ۵۰۰ کېلوولټ برېښنا رالېږد پروژې پر تخنیکي اړخونو خبرې شوې دي.

د برېښنا شرکت د خبرپاڼې له مخې، په دې غونډه کې ‹د افغان انوېسټ کمپنۍ اړوند› د یادې پروژې برېښنا لېږد ولټاژ وړتیاوو، تخنیکي ارزونو، مطالعاتو او قراردادونو کې د ټاکلو موادو په اړه هراړخیزې خبرې شوې دي. بلخوا د برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رییس، ډاکټر عبدالباري عمر د یادې پروژې د چارو پر چټکتیا ټینګار کړی او د ورته ګډو غونډو د جوړولو لپاره یې لازمې سپارښتنې شریکې کړې دي.

له ترکمنستانه د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا رالېږد هغه لویه پروژه ده، چې په بشپړېدو سره یې به یې هېواد کې د برېښنا ګڼې اړتیاوې پوره شي.

د ویلو ده چې د افغانستان برېښنا شرکت رهبرۍ تل د دې پروژې پر ژر بشپړتیا ټینګار کړی دی.

کشف‌وضبط محموله ده ها کیلوگرام مواد مخدر در بدخشان

وزارت امور داخله می‌گوید، نیروهای پولیس قوماندانی امنیه ولایت بدخشان موفق به کشف‌وضبط محموله۳۵۴ کیلوگرام مواد مخدر در ولایت بدخشان شده‌اند.

به گفته وزارت امور داخله، محموله بدست آمده که شامل چرس و تریاک است، در نتیجه عملیات کشفی نیروهای پولیس در مربوطات ولسوالی جرم ولایت بدخشان کشف‌وضبط شده است.

وزارت امور داخله افزوده، همراه با این محموله ۴ تن نیز بازداشت شده‌اند. بربنیاد خبرنامه، قرار است افراد بازداشت‌شده ... ص۳

ځان وژنه؛ انسان د مالک حقیقي ملکیت کې تغیر نه شي راوستلای

میا نورآغا حقاني

الله عزوجل په ټولو کائناتو کې انسان له ټولو بهتر او مخدوم پیدا کړی، بلکې که انسان خپل جوړښت ته ځیر شي، الله عزوجل د ده په وړوکي وجود کې یو عالم جمع کړی، معاصرې پر مختللې علمي نړۍ د انساني طب برخه کې تقریباً د انسان په هره عضوه کې تخصصي څېړنې کړي، حِکَم، مصالح او ورتیاوې یې څېړلي، خو تر اوسه دغه څېړنې انتها ته نه دي رسېدلي، چې دا د انسان په لا مثاله، عجیب او غریب جوړښت باندې دلالت کوي، لکه علي رضي الله عنه چې فرمايي: اتحسب انک جرم صغیر وفیک انطوی العالم الاکبر!؟

له دې سره الله عزوجل انسان د ټولو کائناتو مخدوم پیدا کړی، ځمکه اسمان، فضا، سیارات او کهکشانونه د ده په نفع او خدمت کې لګیا دي، تر دې چې الله تعالی ته نږدې، مقرب مخلوق ملائکه، چې هېڅکله د الله تعالی نافرماني نه کوي هم د الله تعالی په امر سره د انسان په خدمت کې دي. ملائکه د انسان حفاظت او مرسته کوي، له اسمانونو څخه په انسانانو خیر او برکت نازلېږي، ستوري او سیارات د خوراکونو او فصلونو په پخېدو او مزه دار کېدو کې پوره ونډه تر سره کوي، د ښایست نظارې یې انسان ته روحي خوشحالي وربښي، فضا یې د تنفس خدمت تر سره کوي په اوس وخت کې، خو صوتي او نورو انتقالاتو د اتصال لوی خدمت هم ترې اخیستل کېږي، د ځمکې په سر له اوسېدنې علاوه؛ له ځمکې څخه د انسان استفاده هر انسان په ورځني ژوند کې ګوري او حس کوي یې.

خو انسانان بیا الله عزوجل د مختصر وخت لپاره خپل عبادت ته پیدا کړي او بیا داسې همیشنۍ خوشحالي وربښي، چې څنګه د انسان زړه غواړي. انسان په لنډ دنیوي ژوند کې د الله تعالی له طرفه مکلف ګرځول شوی تر څو د مکلفیت له امتحاني دورې څخه وروسته لویه او عظیمه بدله ورکړي، دغه مکلفیت هم د ده د وس او توان په اندازه دی، مثلاً: نوموړی مکلف دی، چې لمونځ ادا کړي، خو که په لمونځ کې دریدی نشو په ناسته دې وکړي، که رکوع او سجده یې نشوه کولای په اشارې سره دې ادا کړي، زکات پرې واجب دی، خو که د نصاب مالک نه و یا یې په نصاب کال نه و تېر شوی زکات پرې نشته، همداسې په هر حکم کې ورسره اساني شوې، د ده له توان څخه زیات بار نه دی پرې اچول شوی، له دې سره د ده د مکلفیت دور په نسبت د بدلې او اجرت دور ته د نیست برابر دی. د دنیا ژوند اکثر تر سلو کلونو پورې نه رسېږي، خو که دغه مختصر ژوند یې د الله تعالی له اوامرو سره سم تېر کړ، الله تعالی ورته د جنت زندګي ورکوي، داسې زندګي چې هېڅکله نه ختمېږي او داسې نعمتونه ورکوي، چې پخوا یې هېڅکله خاطر کې نه وو ګرځېدلي، دومره پرېمانه نعمتونه ورکوي، چې هرڅومره، هر رنګه او هر کله یې وغواړي بغیر له تاخیره ورته رسېږي.

له دې ټولو ښېګڼو او نعمتونو سره باید انسان د نیوي ژوند کې امتحان او تکلیف د لویو نعمتونو په امید کې د الله تعالی د حکم مطابق په صبر او استقامت سره تېر کړي، هېڅکله باید بې صبري او بیړه ونه کړي او همدا د سالم عقل تقاضا ده، چې د لویو سوبو په تر لاسه کولو کې کم مشقت ته هیڅ التفات ونه شي.

لکه څنګه مو چې ذکر کړل د انسان جوړښت او وجود له ټولو بهتر او ښایسته دی، دا بدهي خبره ده، چې د دې وجود مالکیت د وجود له خالق سره دی، انسان ته یې یوازې د استعمال اختیار او اجازه ورکړې، انسان حق نه لري، چې د مالک حقیقي ملکیت کې تغیر راولي یا یې ختم او هلاک کړي، بلکې انساني وجود د الله تعالی له طرفه انسان سره امانت او دیعت دی، چې باید انسان یې په پوره پاملرنې سره ترې حفاظت او نګراني وکړي، لکه څنګه چې عقل دا اجازه نه ورکوي، چې یو انسان دې د بل ملکیت خرابه او هلاک کړي، همدارنګه باید د الله تعالی دا عظیم ملکیت له تغیر او هلاکت څخه وساتل شي، لکه څنګه چې انسان د خپل کمزوري ملکیت د تغیر او هلاکت پوښتنه کوي، الله تعالی هم د دې عظیم مملوک د هلاکت او تغیر پوښتنه خامخا کوي او خامخا یې تیري کوونکي مجازات کوي، چې الله عزوجل په دې مجازات ښه قادر دی. له دې زیاتو نعمتونو او احساناتو وروسته له دې چې د آخرت اوږده نه ختمېدونکې له نعمتونو ډکه زندګي زموږ په انتظاره ده، د نا امیدۍ او مایوسۍ څه مجال او سوال پیدا کېږي!؟ نه، هېڅکله هم باید له الله تعالی څخه د عقل او منطق پر بنیاد څوک نا امید او مایوس نه شي؛ بلکې مایوسي د الله تعالی په عظیم دربار کې عظیمه ګناه دی.

همدارنګه انسان هېچا ته دا حق نه ورکوي، چې د ده ناقص او مجازي مملوک دې څوک ورته خراب او هلاک کړي، بیا دا حق څنګه ځان ته ورکولی شي، چې د الله تعالی لخوا په امانت ورکړل شوی ښایسته او عجیب وجود، چې د الله تعالی ملک دی د ځان وژنې/ خود کوشۍ په صورت کې خراب او هلاک کړي!؟

راځئ د الله تعالی په تقسیم راضي شو، له صبر او استقامت څخه کار واخلو تر څو د الله (ج) د رضا او دوامداره نعمتونه په همېشه او نه ختمېدونکې زندګۍ کې تر لاسه کړو.

و ماذالک علی الله بعزیز!

د اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې د روسیې اصلي هدف څهٔ دی؟

امین وردګ / دویمه برخه

آیا روسیه بهٔ اسلامي امارت ته نظامي تجهیزات او پرمختللې وسلې ورکړي؟

دا هم د افغانانو تر منځ نن سبا یوه مطرح پوښتنه ده، چې آیا له رسمیت پېژندنې وروسته بهٔ روسان له افغانانو سره د وسلو او نورو نظامي تجهیزاتو مرسته وکړي کهٔ نه؟ په دې کې شک نشته، چې یو مستقل هېواد کولی شي د ځان د دفاع پهٔ خاطر له بل هېواده وسلې واخلي، نو اسلامي امارت هم حق لري، چې دا کار وکړي او باید یې وکړي! خو دا چې روسیه بهٔ یې ورسره و مني کهٔ نه؟ دا بیا بېله موضوع او مهمه پوښتنه ده! کهٔ له یوې خوا ناټو د روسیې سرسخته دښمنه ده، نو له بلې خوا یې اسلامي امارت هم څهٔ د ادې زوی نهٔ دی! روسیه پوهېږي چې د اسلامي امارت سره کرښه فقط شریعت دی او د شریعت پهٔ شتون کې دلته روسان خپلو اهدافو ته هېڅکله هم نه شي رسېدلی، نو ولې بهٔ د لیرې دښمن پر ځای، پهٔ خپل کور کې پهٔ لوی لاس ځان ته نوی دښمن پیدا کوي؟! نو فکر نهٔ کوم چې دغهٔ کار ته زړهٔ ښهٔ کړي! خو کهٔ له بلې زاویې څخه ورته وګورو، چې هغه له اسلامي امارت څخه یو ابدي پیمان اخیستل دي (چې دوی ته بهٔ ضرر نهٔ رسوي او د ناټو له نفوذ څخه پهٔ مخنیوي کې بهٔ مرسته ورسره کوي) نو بیا امکان لري چې دا کار هم وکړي، خو له ټولو مهمه دا ده چې روسان د اسلامي امارت پهٔ پوره مطالعه کولو کې لا هم وخت ته اړتیا لري؛ ځکه چې له نږدې یې نهٔ پېژني، بلکې اوس هم شک پرې لري او وېره ترې لري! خو که یې یوه لسیزه ورسره تېره کړه او ویې پېژندل چې قول یې مردانه وار دی! بیا ممکن هر ډول نظامي تجهیزات هم ورکړي، خو نه رایګان یا خوشې؛ بلکې د معادنو یا درنو نغدیاتو پهٔ بدل کې.

آیا نور هېوادونه بهٔ هم اسلامي امارت پهٔ رسمیت و پېژني؟

دا هم یوه مهمه پوښتنه ده، چې آیا نور هېوادونه بهٔ هم د روس پر پلهٔ لاړ شي او کهٔ بهٔ د امریکا خپګان ته وګوري؟ دلته هم دوه صورته دي؛ یو دا چې د روسیې تر نفوذ لاندې هېوادونه بهٔ یو پهٔ بل پسې دا لړۍ وساتي، دویم دا چې هر مستقل هېواد پهٔ داسې مواردو کې خپلو ګټو ته ګوري؛ تر اوسه چې دغهٔ کار ته هېوادونو زړهٔ نشو ښهٔ کولی هغوی د امنیت شورا او له نورو بین المللي پرېکړو لیکونو څخه وېرېدل، خو اوس چې روسیې اقدام وکړ، نو په دې کې شک نشته چې دا لړۍ بهٔ دوام کوي ان شاءالله او یو پهٔ بل پسې بهٔ هېوادونه د اسلامي امارت حکومت پهٔ رسمیت پېژني، خو د خپلو خاصو شرائطو پر اساس او دا هم امکان لري، چې همغه لومړنی اټکل صادق شي، چې د روسیې له نفوذ لاندې هېوادونه بهٔ د روسیې د خوشالولو له امله دا کار وکړي او د امریکا له نفوذ لاندې هېوادونه بهٔ د امریکا له اجازې مخکې زړهٔ ښهٔ نه شي کړی. دریم صورت بیا دا هم کېدای شي، چې پر ته له فرانسې څخه نور اټومي طاقتونه رامخته شي او د خپلو ستراتیژیکو اهدافو او ګټو له امله د اسلامي امارت حکومت د ځینو شرایطو پر اساس پهٔ رسمیت و پېژني، خو د دې کار اټکل فعلاً کم دی.

د رسمیت پېژندنې او نهٔ پېژندې تر منځ توپیر څهٔ دی؟

پهٔ دې خبره خو ټول پوه یو، چې رسمیت پېژندنه پر یوهٔ هېواد د حاکم نظام مشروعیت ثابتوي او نهٔ پېژندنه یې غیر مشروعیت ښیي؛ کوم حکومتونه چې پهٔ رسمیت نهٔ پېژندل کېږي، هغوی له ګڼو ستونزو سره مخ وي؛ لکه پهٔ ډیپلوماتیکو اړیکو کې نا باوري، پهٔ تجارتي او ترانزیټي برخو کې خنډونه، پهٔ اقتصادي او سیاسي اړیکو کې پېچلتیاوې، پهٔ هوکړه لیکونو، قراردادونو او داسې نورو... مواردو کې هویتي نا باوري، همدا راز بهٔ یې نښان او بیرغ ته هم پهٔ درنه سترګه نهٔ کتل کېږي، کرنسی بهٔ نهٔ شي تغیرولی او داسې نور ګڼ موضوعات دي، چې رسمیت پېژندنه پرېکنده رول په کې لري.

تاسو وګورئ! همدا اوس پهٔ افغان الکترونیکي تذکرو، پاسپورټونو، شهادت نامو، ډیپلومونو، کرنسیو، ویزو او داسې نورو... کې د پخوانۍ اداري لوګوګانې او نښانونه چلېږي! یوازنی علت یې همدا د نهٔ رسمیت پېژندنې معضله ده. دا چې ځینې هېوادونه له اسلامي امارت سره همدا اوس ډیپلوماتیکې اړیکې پالي، دا ټولې د رسمیت پېژندنې نښانې دي خو فقط د مجبوریت پر اساس (چې له بین المللي ټولنې او یا هغو هېوادونو څخه ډار دی، چې دوی یې تر اغېزې لاندې دي) اعلان نشي کولی ځکه خو رسمي نه، بلکې تعاملي بڼه ورکوي! کنه همدا رسمیت دی.

راځئ چې د دغو دواړو حالتونو تر منځ توپیر ته یوه ساده او محلي بېلګه راوړو! کله چې پهٔ کومه دولتي اداره یا کلي کې خاص مجلس جوړ شي او خاص خلک ورته راوغوښتل شي، نو همغه راغوښتل شوي کسان بهٔ هلته ګډون کوي (یاني هغوی رسمیت لري!) نهٔ بل څوک، کهٔ بل څوک ورشي او پهٔ مجلس کې کېني نو خامخا د مجلس غړي پهٔ سوالیه توګه ورته ګوري؟! چې ګنې دا څوک دی او چا راغوښتی؟ دلته څهٔ کوي چې پهٔ خپل سر راغلی دی؟ بیا نو لومړی کوښښ کوي، چې له مجلسه یې وباسي، خو کهٔ اړتیا احساس شوه او بله چاره نهٔ وه نو باسي یې نه، خو خبرې ته یې هم چندان ارزښت نهٔ ورکوي، ځکه خو پښتانهٔ متل کوي، چې ((سل بللي ځایېږي خو یو نابللی نه)) نو رسمیت پېژندنه همداسې ارزښت او اهمیت لري.

آیا روسیه بهٔ ټول وخت پهٔ افغانستان کې اسلامي امارت وزغمي؟

یقیناً دا پوښتنه ډېره حساسه ده! دا چې د اسلامي امارت له ټولو ستر هدف د یوهٔ سوچه اسلامي نظام حاکمیت او د سپېڅلي شرعي قانون نفاذ دی دا موضوع پهٔ ټوله کې پر غیر اسلامي قدرتونو درنه پرېوزي! ځکه چې اسلامي نظام واحد او متحد نظام وي، نهٔ جزیروي او ملوک الطوائفي! مطلب دا چې پر ټوله اسلامي نړۍ باید یکې یو نظام حاکم وي، چې د ټولو وګړو حقوق په کې خوندي شي، نه متعدد نظامونه، پاشلي او وېشلي قدرتونه، خو د مسلمانانو لپاره دا موقف نهٔ روس غواړي، نهٔ چین او نهٔ هم نور غربي هېوادونه؛ ځکه خو همدا لامل ؤ چې پهٔ ۲۰۰۱ م کال کې هېڅ هېواد او هېڅ ټولنې هم پر افغانستان غربي یرغل و نهٔ غندلو او نهٔ یې تېری ورته وویل. نو روسیه بهٔ فقط او فقط خپلو ګټو ته پهٔ ګټو له اسلامي امارت سره تعامل ساتي، نهٔ دا چې د نورو غیر اسلامي نظامونو پهٔ توګه یې حمایه او تقویه کړي؛ بلکې دا هم امکان لري، چې یوځل بیا د پخوا پهٔ توګه غدر وکړي او دلته خپل کسان و روزي او حمایه یې کړي؛ مطلب موږ باید له هر غیر اسلامي هېواد سره اړیکې د ډیپلوماسۍ پهٔ کچه وساتو او بس؛ یاني د ژورې دوستۍ تمه ترې و نهٔ کړو! ځکه چې هغوی هېڅکله هم واحد، متحد او مقتدر اسلامي حاکمیت نهٔ غواړي، له همدې امله یې د شلمې زېږدیزې پېړۍ پهٔ دریمه لسیزه کې زموږ ۶۴۴ کلن واحد اسلامي نظام (عثماني خلافت) پهٔ ګډه ړنګ کړ.

اسلامي امارت ته څه په کار دي؟

اسلامي امارت پر دې خبره پوه دی، چې اوس مهال پهٔ ټوله (اسلامي او غیر اسلامي) سیاسي نړۍ کې ریښتینی دوست نهٔ لري! دا سمه ده، چې رسمیت پېژندنې بهٔ دوام وکړي، خو ټولې بهٔ د مادي ګټو پر اساس وي، چې اسلامي امارت بهٔ هم دا خوند وڅکي اما کوم چې معنویات دي هغو ته باید هېڅکله هم شا نهٔ کړي او تل کوښښ وکړي، چې ټوله اسلامي نړۍ قانع او پر واحد اسلامي نظام یې یوځل بیا راټوله کړي. اسلامي امارت باید داخلي کشمکشونو ته زیات متوجه وي او هېچا ته اجازه ور نهٔ کړي، چې امنیت او ثبات له منځه یوسي. اسلامي امارت ته په کار ده چې ژر تر ژره اساسي قانون جوړ کړي، نوی نسل پهٔ اسلامي مفکوره و روزي، ځوانانو ته کار پیدا کړي، د تعلیم او تعلم پهٔ برخه کې جدي او مؤثر ګامونه واخلي، نوی پر مختللی او معیاري نصاب جوړ کړي. اسلامي امارت باید پهٔ خپل سیاسي نظام کې توازن و ساتي او دوښمنانو ته وخت ور نهٔ کړي تر څو د مشرانو ذهنیتونه منحرف کړي او پر متعهدو ملګرو یې بې باوري رامنځته شي.

دا چې نن سبا پهٔ ځینو امارتي ادارو کې د ازلي دښمنانو له خوا پهٔ ماهرانه او تخصصي توګه تخریبي مثلثات جوړ شوي او کار یې د متعهدو اشخاصو د شخصیتونو ترور او پهٔ مدیریت کې د هغوی ضعیف ښوول دي، نو اسلامي امارت باید د دغې بدمرغه محرکې شیطاني لومې مخه و نیسي، کنه عواقب بهٔ یې ډېر بد وي! دا مثلثونه پهٔ متوسطه سطحه جوړ شوي، چې اوس د متخصصینو او مشاورینو پهٔ کچه کار کوي او ځینې پخواني رئیسان او آمرین هم ښه خوړه برخه په کې لري، خو هدف یې دا دی، چې تر دې پهٔ لوړه سطحه ځانونه ځای پر ځای کړي او پهٔ پای کې د حاکم نظام واکې پهٔ خپلو لاسو کې واخلي؛ دا کار ځکه کوي، چې پوهېدلي اسلامي امارت داسې حریف نهٔ لري، چې حاکمیت یې چلنج کړی شي، ځکه خو اوس دوی غواړي له داخل څخه دا فورموله تطبیق او تر پلاله لاندې اوبهٔ تېرې کړي. اسلامي امارت له ټولو زیات تمرکز باید پر فکري روزنه وکړي او فکري خلکو ته موقع مساعده او وخت ورکړي چې کار وکړي، بلکې فشار پرې وروړي او کار ترې واخلي! نور توکل پر الله! هر څهٔ بهٔ سم شي ان شاءالله.

د محرم الحرام میاشتې په اړه څو لنډې کرښې

مولوي نورالحق مظهري

دا په قرآن ثابته شوې خبره ده، چې الله پاک، کال له دوولسو میاشتو څخه جوړ کړی لکه په قرآن شریف کې چې راځي: ژباړه؛ یعني شمېر د میاشتو د الله په نزد دوولس دی، چې په کتاب الله کې لیکل شوي دي. مراد ورڅخه لوح محفوظ دی. [سورة التوبة ۳۶]

یوه له دغو دوولسو میاشتو څخه د محرم الحرام میاشت ده، چې د هجري سپوږمیز کال لومړنۍ میاشت بلل کېږي، دا میاشت هم د نورو میاشتو غوندې یوه برخه د وخت او زماني ده، چې پر انسانانو باندې راځي، د نورو میاشتو غوندې په دې میاشت کې هم ځینې پېښې شوي او لا هم کېږي.

د محرم الحرام میاشتې شرعي حیثیت:

د محرم الحرام میاشته هم دکال د دوولسو میاشتو څخه یوه میاشت ده، په شریعت کې یوازې دومره ثابته ده، چې په دې میاشت کې د روژې نیول سنت او یا مستحب کار دی لکه په لاندې حدیث کې چې راځي:

ژباړه: «د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې د جاهلیت د وخت خلکو به د (محرم الحرام) لسمي ورځې روژه نیول، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو هم مخکې تر دې چې د روژې میاشتې روژه فرض شي دغه روژه نیوله، کله چې د روژې میاشتې روژه فرض شوه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د (محرم الحرام) لسمه ورځ د الله پاک د ورځو څخه یوه ورځ ده د هر چا چې زړه غواړي روژه دې ونیسي او که یې زړه غواړي نه دې نیسي.» [صحیح مسلم۲۶۹۸]

په همدې خاطر د بخاري شریف په حدیث کې راځي، چې عبدالله بن عمر رضي الله عنه د دې ورځې روژه نه نیوله:

ژباړه: «د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د عاشوراء د ورځې روژه نیوله نورو ته یې هم د هغې د نیولو امر وکړ، خو کله چې رمضان فرض شوه نو دغه روژه پرېښودل شوه، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به دغه روژه نه نیوله، مګر دا چې د ده له عادي روژو سره یې موافقت راغلی وای.» [صحیح البخاري ۱۸۹۲]

په دغه میاشت کې څو مهمې پېښې:

۱- په همدې میاشت کې موسی علیه السلام او ورسره مسلمانان د فرعون له ظلم څخه خلاص شول، پر رود نیل تېر شول او فرعونیان په کې غرق شول.

۲- په همدې میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګ او جهاد کولو لپاره د صحابه وو ډلګۍ لېږلې دي او غزوې یې کړې دي لکه: سریه ابي سلمه بن عبدالاسد، سریة محمد بن مسلمه، غزوه د نجد، غزوه د قرارة الکدر او خیبر ته تلل.

۳- په همدې میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صفیه بنت حیي سره نکاح وکړه.

۴- په همدې میاشت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نړۍ مختلفو واکمنانو ته د دعوت لیکونه واستول.

۵- په همدې میاشت کې د قادسیه ستر جنګ د مسلمانانو او کافرانو تر منځ وشو، چې د مسلمانانو مشر سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وو او د کافرانو مشر رستم او جالینوس وو، چې جنګ مسلمانانو وګاټه.

۶- په همدې میاشت کې د حضرت عثمان رضي الله عنه سره د خلیفه او امیرالمومنین په صفت د مسلمانانو بیعت وشو.

۷- په همدې میاشت کې حضرت حسین رضي الله عنه د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.

همدې ته ورته نورې ډېرې پېښې په دې میاشت کې شوي دي.

په دې میاشت کې د عاشوراء د ورځې عمل:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: زه له الله تعالی څخه د دې طمع لرم، چې د عاشوراء د ورځې په روژې به د تېر شوي کال ګناهونه عفوه کړي. [سنن ترمذي۱۷۳۸]

البته کوم خلک چې د دې میاشتې د عاشوراء د ورځې روژه نیسي هغوی ته د شریعت لخوا لارښوونه شوې ده چې باید د نهمې ورځې روژه هم ورسره ونیسي تر څو چې په روژه نیولو کې د یهودو سره مشابهت را نه شي، ځکه چې هغوی هم د دې ورځې روژه نیسي، په دې خاطر چې موږ له دوی سره په مخالفت امر شوي یو، نو موږ باید یوه ورځ مخکې تر دغې ورځې روژه ونیسو او که له چا څخه نهمه ورځ تېره شوې وي، نو بیا دې د یوولسمې ورځې روژه ورسره ونیسي.

د محرم په میاشت کې هېڅ ځانګړې مصیبت نشته:

د شریعت د عمومي اصل پر بنیاد چې مصیبت تر درو ورځو اضافه نه شته، نو په دې میاشت او یا د دې میاشتې پر لسمه چې په هغه وخت کې کومې د مصیبت پېښې شوي دي، اوس یې نمانځل او یا یې کلیزه نیول نه رواکېږي لکه چې په حدیث کې راځي:

«یعني د هېڅ هغې ښځې لپاره چې پر الله او ورځې د آخرت ایمان لري نه رواکېږي، چې پر مړي تر درېو ورځو اضافه زینت او ځان جوړل پرېږدي (د مصیبت اظهار وکړي) مګر پر خپل خاوند باندې چې څلور میاشتې او لس شپې زینت او ځان جوړل پرېږدي (اظهار د مصیبت کوي). په خاصه توګه په نیاحت او لوړ آواز باندې ژړل چې هېڅ وخت نه رواکېږي.» [صحیح البخاري۱۲۸۱]

لکه په بل حدیث کې چې راځي:

ژباړه: د عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: زموږ څخه نه دی څوک چې خپل بارخو په څپېړه (چپلاخه) ووهي او خپل ګرېوان څیرې کړي او د جاهلیت د وخت خبرې وکړي، نو په دې میاشت کې او یا د دې میاشتې په لسمه ورځ چې په «عاشوراء» مشهوره ده هېڅ شرعي مصیبت وجود نه لري، هېڅ مسلمان باید دا میاشت او یا دغه ورځ، د مصیبت او غم و نه بولي، همدا راز په دې میاشت کې ځانګړې خوشالي او خاص مراسم هم وجود نه لري.»

[صحیح البخاري کتاب بدء الوحي، حدیث ۱۲۹۴]

دا معلومه خبره ده، چې په دې باندې چې الله پاک په لسمه ورځ د دې میاشتې موسی علیه السلام او مسلمانانو ته نجات ورکړی هر مسلمان خوشحال دی، خو دا چې د دې خوشالۍ لپاره دې ځانګړي مراسم جوړ شي شرعاً هیڅ ثبوت نه لري.

په دې میاشت کې هم د نورو میاشتو غوندې که څوک وغواړي نکاح او واده کولای شي همدا راز هغه خوشحالي چې شرعاً یې اظهار په واده کولو روا وي هم ښکاره کولای شي هېڅ ممانعت په کې نشته.

که د چا مړی وشي د نورو میاشتو په څېر په دې میاشت کې هم نور مسلمانان شرعي تعزیه ورکولای شي.

لنډه دا چې مسلمان باید په دې پوه شي چې:

۱- په دې میاشت کې واده کول هېڅ پروا نه لري که څوک یې روا نه بولي هغه ګناهکار دی.

۲- دا میاشت هېڅ ځانګړي مراسم د غم یا د خوشحالۍ نه لري.

۳- دا میاشت د غم او مصیبت میاشته بلل ګناه ده.

۴- په دغه میاشت کې سفر کول هېڅ پروا نه لري.

۵- دا میاشت هېڅ ځانګړې خیرات او ذبیحه نه لري.

۶- په دغه میاشت کې د دې میاشتې په مناسبت لکه چې د نیاحت او غم مجلس جوړول حرام اوګناه ده ورتلل یې هم ګناه ده.

۷- په دغه میاشت کې که چا داسې خیرات کړی وي، چې بېله الله یې د بل چا په نامه ذبح کړی او یا نذر کړی وي باید مسلمان یې د خوړلو څخه ډډه وکړي.

افغان اعــلانـات

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نسیم یوسفی فرزند عبدالعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فضل الله فرزند وفی الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رومل نوری فرزند رمضان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مقبول عثمانی فرزند عبدالمجن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالغفار علیزاده فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اسحق ابراهیمی فرزند حاجی ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نورالله مایار فرزند محمد موسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحمید علی زاده فرزند امام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گلبار احمدی فرزند عیسی خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مدینه دولت زی فرزند حاجی خان وزیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خالده ظفری بنت عمرا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شاه ولی امیری فرزند نواب خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم یارمحمد احمدی فرزند گل محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید انور فاروقی فرزند غلام فاروق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حافظه نوری بنت سید علی خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۰۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مجتبی زمری فرزند داکتر زمری مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ثریا رحیم زی بنت عبدالحمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم برکت الله فرزند محمد داود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شاه ولی نوری فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خواجه فرهاد صدیقی فرزند خواجه نظام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شرین گله افغان بنت هستی خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نیازگل محمدی بنت روزی گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۷۸۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زرپرو فرزند حاجی بسم الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صراف خان اتمانزی فرزند نجیب الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۱۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رضا محسنی فرزند غلام غوث مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۶۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ناظم جبران فرزند محمد کاظم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۶۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیروزه بنت حاجی اقبال علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۵۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زهرا اصغری فرزند غلام سخی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۵۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم آرزو اصغری بنت غلام سخی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۵۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید عزت الله هاشمی فرزند سید عبدالواحد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۶۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شفیق الله کریمی فرزند عبدالعزیز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۶۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نذیر ادبیار فرزند محمد صدیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۶۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ابراهیم ابراهیمی فرزند محمد خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۶۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور الحق شریفی فرزند شهاب الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم تواب گل شینواری فرزند عمر گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم المستعین بالله شریفی فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۲

اطلاعیه مفقودی
یک قطعه ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم سید محمد عمر فرزند سید محمد ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۴

موضوع : به اجاره دادن موازی (۴۲۳۰) جریب زمین به طور قرار داد طویل المدت.
مدیریت شرطنامه،ریاست اجاره دهی ، ریاست عمومی اراضی موازی (۴۲۳۰) جریب زمین واقع ساحه نائیب آباد ولسوالی خلم ولایت سمنگان را تثبیت نموده و آماده اجاره دهی به طور طویل المدت به منظور زراعتی، مالداری و فارمداری با حد اقل بدل الجاره مجموعی مبلغ (۱،۶۰۷،۴۰۰) یک میلیون و شش صدو هفت و هزار و چهار صدو سالانه برای مدت ۳۰ سال مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی به اجاره میدهد. داوطلبان و شرکت های که ثابت نمایند اهلیت حقوقی و لیاقت مسلکی و تخنیکی منابع مالی تجهیزات و کارکنان فنی برای اجراات قرار داد و تجربه مربوط در موضوع فوق الذکر را داشته باشند الی مدت (۱۰) ده یوم از نشر اعلان با درخواست های خویش به مدیریت عمومی ترتیب شرطنامه ، آمریت اجاره دهی پروژه و سرمایه گذاری طویل المدت ، ریاست عمومی اجاره دهی۲۹۶ مراجعه نماید.فورمه های لازم اجاره دهی را همراه با شرطنامه از تاریخ ۱۴۴۷/۱/۱۶ الی ۱۴۴۷/۱/۲۶ از مدیریت عمومی ترتیب شرطنامه، ریاست عمومی اجاره دهی و سرمایه گذاری زمین ، ریاست عمومی اراضی واقع ناحیه هفتم ، مقابل قصر دارالامان - کابل- افغانستان اخذ نمایند.
مجلس مزایده که در حضور داشت داوطلبان واجد شرایط به تاریخ ۱۴۴۷/۱/۲۷ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در تالار جلسات ریاست عمومی اراضی تدویر میگردد. اشتراک نمایند البته آفرهای ناوقت رسیده بعد از ضرب الاجل تعین شده رد میگرد.

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قراردادپروژه تدارک دو نوع تیل (دیزل و پطرول)!
بدینوسیله به تأسی از فقره (۱) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا در نظر دارد، قرارداد پروژه تدارک دو نوع تیل (دیزل و پطرول) را با شرکت محترم امارتی نفت و گاز افغانستان دارنده جواز نمبر (۷۹۹۵۵) به قیمت ثابت مجموعی حداقل مبلغ (۱۰،۰۰۰،۰۰۰) ده میلیون افغانی و قیمت ثابت مجموعی حداکثر مبلغ (۱٤،۳۰۰،۰۰۰) چهار ده میلیون و سه صد هزار افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طورکتبی توأم با دلایل آن به مقام محترم لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین واحکام ا.ا.ا واقع شهر نو وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد .

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی.
وزارت فواید عامه، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ترمیم و جغل اندازی شاهراه عمومی غور - هرات از دوراهی دره بیدان الی پل کمنج . اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریت تدارکات امور ساختمانی این وزارت بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۰ :۲ بعد از ظهر) مؤرخ (۱٤۰٤/۰٤/ ۲۸) به ریاست تدارکات، وزارت فواید عامه، واقع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسبق، جوار اداره ملی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر بصورت گرنتی بانک مبلغ (۸۰۰،۰۰۰) هشت صد هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشائی به تاریخ (۱٤۰٤/۰٤/۲۸) ساعت (۰۰ :۲ بعد از ظهر) در ریاست تدارکات منزل اول تعمیروزارت فواید عامه تدویر میگردد.

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی.
وزارت فواید عامه، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ترمیم و جغل اندازی شاهراه عمومی غور - دایکندی از دهن تسرقی الی قریه سیاه سنگک زرتلی . اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریت تدارکات امور ساختمانی این وزارت بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۰ :۱۰ قبل از ظهر) مؤرخ (۱٤۰٤/۰٤/۲۸) به ریاست تدارکات، وزارت فواید عامه، واقع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسبق، جوار اداره ملی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

کشف‌وضبط محموله...
پس از بررسی‌های لازم به نهادهای عدلی و قضایی سپرده شوند.
در مورد چگونگی کشف و مقصد انتقال این محموله در خبرنامه چیزی گفته نشده است.
این در حالی است که پولیس مبارزه با مواد مخدر قوماندانی امنیه ولایت میدان‌وردک دو روز پیش ده‌ها کیلوگرام تریاک و چرس را نیز کشف‌وضبط کرده بود.

راه‌اندازی پروژه‌ها تسهیلاتی ...
فراهم‌کردن سرپناه موقت به مهاجرین از جمله این اقدامات است. به گفته مقام‌های محلی ولایت هرات در هفده روز گذشته ۴۵۰ هزار مهاجر افغان تنها از طریق گذرگاه مرزی اسلام‌قلعه به کشور برگشته‌اند. در خبرنامه آمده که در این مدت خدمات متعددی برای مهاجرین برگشته در ولایت هرات ارایه شده است. این در حالی است که روند اخراج‌اجباری مهاجرین افغان از ایران به شدت خود باقی‌ست و بربنیاد آمارها روزانه هزاران تن برگشت داده می‌شوند.

د ملا برادر په مشرۍ؛ ایکو ...
سپارښتنې شوې دي. د اقتصادي معاونیت په خبرپاڼه کې دا هم ویل شوي، چې ملا عبدالغني برادر د ایکو سازمان د ۱۷مې سرمشریزې په څنډه کې د یو شمېر هېوادونو له مشرانو سره د جلا جلا لیدنو پر مهال د افغانستان او یادو هېوادونو ترمنځ سیاسي او اقتصادي اړیکې، سوداګري، ترانزیټ، ټرانسپورټ، وسپنې پټلۍ، برېښنا، افغانانو ته د وېزو ورکړې، ګډې بانکي همکارۍ او ځینې نور موضوعات مطرح شوي دي.

کمک یک میلیارد افغانی بنیاد ...
عاجل به ارزش يك ميليارد افغانی را منظور نموده‌ام. رییس بنیاد عزیزی تاکید کرده که از اخراج‌اجباری مهاجرین افغان از ایران و «ناهنجاری بشری» که در نتیجه آن به وجود آمده «عمیقاً متاثر و غم‌گین» شده است. میرویس عزیزی ابراز امیدواری کرده که مهاجرین پس از سال‌ها برگشت، صاحب زندگی آسوده و آبرومند در کشور شوند. این بسته کمکی در حالی اعلام شده که مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رییس‌الوزراء و رییس کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین بار دیگر خواهان کمک تاجران کشور در راستای رسیدگی به مشکلات مهاجرین برگشته به کشور شد.

آغاز کار یک شبکه آبرسانی ...
تکمیل کار این شبکه آبرسانی صحی ۳۰۰ خانواده به آب آشامیدنی صحی دسترسی پیدا کنند. روز گذشته نیز وزارت احیاء و انکشاف دهات از تکمیل کار و بهره‌برداری یک شبکه آبرسانی صحی به هزینه ۴.۷ میلیون افغانی در مربوطات ولایت لوگر، خبر داده بود.

استانه له پخوا د افغانستان ...
کړې، چې قزاقستان له پیله د افغانستان په ټراو غوره دریځ نیولی دی.
کابل ته د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر په لومړي ځل سفر کړی او ټول هېواد کې یې له امنیت داډ څرګند کړی دی. ښاغلي نورتلیو ویلي، چې هېواد یې له افغانستان سره سیاسي اړیکو ، اقتصادي او علمي همکاریو پراختیا ته ژمنتیا لري. نوموړي وړاندې څرګنده کړې: قزاقستان غواړي په اوږد مهال کې د افغانستان په ثبات، ترانزیټ د خوړو امنیت او په ټوله کې په هر اړخیز پرمختګ کې مثبت رول ولوبوي.
د دې کتنې په پای کې دواړو خواوو د تورغونډۍ - هرات وسپنۍ پټلۍ په برخه کې په لاسلیک شوې هوکړې خوښي ښودلې او د کارونو پر ژر پیل یې هوکړه کړې ده.

نسل‌های آینده را با تاریخ ...
جنبش جهادی «تحریر الشام» در سوریه نیز از جمله قهرمان‌هایی است که در برابر رژیم های ظالم و اشغال‌گران افراطی قربانی های قابل توجهی داده است.
وظیفه و مسئولیت ماست که نسل آینده خود را با این تاریخ پاک، قربانی‌ها و مبارزات عقیدتی آشنا سازیم. باید به آن‌ها نشان دهیم که اسلام با غیرت، اخلاص و خون فداکاران نوشته شده است.اگر این امانت بزرگ را با عزت و احترام به نسل‌های بعدی نسپاریم، تاریخ از ما نیز خواهد پرسید، زیرا صفحات تاریخ نمی‌بخشند؛ بلکه قضاوت می‌کنند.

ګاونډي هېوادونه دې له افغان ...
عبدالسلام حنفي، چې د کډوالو په اړه یې رسنیو ته معلومات ورکول، په ایران کې له افغانانو سره د یاد هېواد چلند ظالمانه وګڼه او غوښتنه یې وکړه، چې دا ناوړه چلند دې بند کړي، ګنې الله مکره د دواړو هېوادونو اړیکې به زیانمنې کړي: ناڅاپي ۳۰-۳۵ زره کډوال په ۳۵۰ - ۴۰۰ بسونو کې راوړل کېږي او دروازې سره خوشې کېږي، دغه راشړل شوي افغانان ډېرې ستونزې لري، هر یو یې ځانته داستان لري، په لاره کې ایراني عسکر ښه چلند ورسره نه کوي، حقونه یې خوړل کېږي. نوموړی وایي له ایرانه راتلونکو افغانانو ته اسلامي امارت ښه راغلاست وايي، ثبتوي یې، خوراک، څښاک، تعلیم، روغتیا، موقتي او دایمي استوګنځی، وړیا سیمکارتونه او تر خپل ولایته ټرانسپورټ برخو کې ورته چوپړتیاوې برابروي.
ښاغلي حنفي دغه راستنېدونکو کډوالو ته د چوپړتیاوو په دوام زیاته کړې، چې دغو اړمنو ته په ۲۵ ولایتونو کې تخمیناً په ۱۴۰ زره جریبه ځمکه کې ۳۵ ښارګوټي ډیزاین، سروې، توپګرافي او خط اندازي شوي، چې دا شمېره په راتلونکي کې د کډوالو پر تناسب زیاتېدلی هم شي.

تاج محمد بهار

هنگام اخراج از نقض حقوق ...
ایران با رعایت روند تدریجی و تحمل‌پذیری در روند اخراج‌اجباری مهاجرین افغان از انزجار و نفرت میان ملت‌های دو کشور، جلوگیری کنند. این بیانیه در حالی صادر شده که دیروز معاون اداری رییس‌الوزراء و رییس کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین افغان از برخورد نادرست مقام‌های ایرانی هنگام بازداشت و اخراج مهاجرین افغان ابراز نگرانی کرد.

در میدان وردک یک زن از ظلم ...
امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر با احضار همسر و خانواده همسر این زن آنان را نسبت به عمل‌کردشان مورد بازپرس قرار داده و مکلف به رعایت حقوق او کرده اند.
ریاست امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر افزوده که بزرگان قومی و متنفذین ولسوالی جلریز از این اقدام محستین و تامین حقوق شرعی و انسانی این زن از سوی آنان، ستایش کرده‌اند.
این در حالی است که تلاش‌ها به هدف تامین حقوق شرعی و انسانی زنان در شهرها و قریه‌جات افغانستان همچنان ادامه دارد.

اخراج مهاجرین افغان نباید ...
مهاجرین افغان از ایران میان مقامات دو کشور توافق شده بود اما بدلیل تحولات اخیر در ایران، این طرح ناقص مانده است. در همین حال، سفیر ایران گفته که با ایجاد کمیته‌های دوجانبه بسیاری از مشکلات مهاجرین حل شده است. آقای بیکدلی با بیان این که جریمه ویزای مهاجرین افغان برای بازگشت به افغانستان لغوه شده و علاوه بر معافیت گمرکی حمل‌ونقل کالا و تجهیزات آنان، مهاجرین می‌توانند از طریق سفارت ا.ا.افغانستان به پول‌های خود در ایران نیز دسترسی پیدا کنند. او تاکید کرده که اکثر مهاجرین افغان بگونه داوطلبان از ایران به افغانستان برگشته‌اند. گفته‌های سرپرست وزارت امور مهاجرین کشور در حالی بیان شده که به تازگی معاون رییس جمهور ایران هشدار داده که تلاش‌های به هدف تفرقه‌اندازی میان افغانستان و ایران با بهره‌گیری از موضوع مهاجرین، جریان دارد.

هرات کې «د زعفرانو ګل» ...
د ګمرکي تعرفو کمښت، مالیاتي اسانتیاوې، صنعتکارانو ته د ځمکو وېش او له کورنیو تولیداتو د ګټې اخیستنې لپاره هڅوونکي پروګرامونه، له صنعتکارانو د ملاتړ په برخه کې د اسلامي امارت مهم لومړیتوبونه دي. بلخوا د دې نندارتون یو شمېر بهرنیو ګډونوالو سوداګرو له امید راډیو سره په خبرو کې د دا ډول پروګرامونو پر جوړېدو خوښي ښودلې او د بازار موندنې لپاره یې اغېزمن بللي دي.
د یادولو ده چې په وروستیو کې له کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه د اسلامي امارت له لوري په مرکز او ولایتونو کې د ملي او نړیوالو نندارتونو د جوړېدو لړۍ پراخه شوې ده.

شریعت

د دولتي ورځپاڼو رئیس:

انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰

مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵

مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲

د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ

کابل ـ افغانستان

شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Shariat

Published by

Islamic Emirate of Afghanistan

Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies

0202526340

Chief Editor : M. Munir Farooqi

Email: info@shariatdaily.com

WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

Shariat Daily

Saturday 12 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 780

عبدالسلام حنفي:

ګاونډي هېوادونه دې له افغان کډوالو سره ناوړه چلند ختم کړي

شریعت: د افغانستان اسلامي امارت خبر ورکړی دی، چې یوازې په تېره جون میاشت کې څه باندې نیم میلیونه افغانان له ایرانه هېواد ته راغلي دي. دوی وایي، چې اوس مهال په ورځني ډول یوازې د اسلام قلعه له لارې څه باندې ۳۰ زره او د ابریشم پُل لارې څه باندې ۱۰ زره افغان کډوال هېواد ته راستنېږي، چې په دې وروستی میاشت(جون) کې څه باندې نیم میلیونه افغانان له ایرانه افغانستان ته راغلي، چې ورسره په دې وروستیو کلونو کې د هغو افغانانو شمېره تر ۲ میلیونه رسېږي، چې د پاکستان او ایران په ګډون له نورو هېوادونو افغانستان ته راستانه/شړل شوي دي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال او د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې د عالي کمیسیون مشر ... **۳مخ**

راستنېدونکو افغانانو ته د امنیتي ځواکونو د چوپړونو پر څرنګوالي بحث شوی

د امنیتي او تصفیوي چارو د مرکزي کمېسیون نوبتي غونډه د کمېسیون مرستیال او د کورنیو چارو وزارت اداري معین، ملا رحمت الله نجیب په مشرۍ ترسره شوې ده.

د یاد کمېسیون په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې په دې غونډه کې د هېواد پر عمومي امنیتي وضعیت هر اړخیز بحث شوی او ګډونوالو د روانو پرمختګونو د ارزونې ترڅنګ له شته امنیت څخه داډ څرګند کړی دی. د خبرپاڼې له مخې په یاده غونډه کې له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکو افغانانو ته د امنیتي ځواکونو د خدماتو پر څرنګوالي بحث شوی او په بشپړ اخلاص او ژمنتیا سره د راستنېدونکو هېوادوالو پر پالنې ټینګار شوی دی. د یاد کمېسیون غړو اړوندو امنیتي ادارو ته سپارښتنه کړې، چې د راستنېدونکو افغانانو ته هر اړخیز امنیت او لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. د ویلو ده چې له تېرو څو اوونیو راهیسې له ګاونډیو هېوادونو د افغان کډوالو راستنېدل په کمسارۍ توګه زیات شوي دي.

د خوست له هوایي ډګره؛ کویټ ته هم الوتنې پیلېږي

د خوست ولایتي مسئولینو ویلي چې ددې ولایت له هوایي ډګره به ډېر ژر کویټ ته سیده الوتنې پیل شي.

د خوست د والي ویاند مستغفر ګربز ویلي، کویټ له متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان وروسته درېیم هېواد دی، چې له خوست څخه به ورته سیده الوتنې کېږي.

وراندې ویل شوي چې دا الوتنې به د روانې جولای میاشتې په ۲۳ مه د کام ایر هوایي شرکت له لوري پیل شي.

یاده دې شي، چې د دې شرکت الوتکې به هره چهارشنبه، د خوست ـ کویټ ترمنځ الوتنې کوي.

هرات کې «د زعفرانو ګل»
په نوم د افغاني توکو د یوه نندارتون پرانیسته

هرات کې د «زعفرانو ګل» په نوم څلور ورځني ملي او نړیوال نندارتون کې بېلا بېل توکي نندارې ته وړاندې شوي دي.

د یاد ولایت مسئولینو ویلي چې د کورنیو محصولاتو د ملاتړ په موخه په دغه نندارتون کې ۱۲۰ غرفې ابېښودل شوې او بېلابېل توکي په کې نندارې ته ابېښودل شوي دي.

مسئولینو د دا ډول نندارتونو پرانیستل مهم بللي او په راتلونکې کې یې د دوام غوښتنه کړې ده.

د زعفرانو ګل په نوم د دغه نندارتون د پرانیستې په مراسمو کې د اسلامي امارت مرستیال ویاند، ملا حمدالله فطرت ویلي چې... **۳مخ**

کمک یک میلیارد افغانی بنیاد عزیزی برای رسیدگی به مهاجرین افغان

بنیاد عزیزی اعلام کرده که یک میلیارد افغانی را برای رسیدگی فوری به مشکلات مهاجرین برگشته افغان از کشور ایران منظور کرده است.

میرویس عزیزی، رییس بنیاد عزیزی این کمک را در ایکس اعلام کرده است.

آقای عزیزی تاکید کرده که به همکارانش در کابل دستور داده تا هرچه‌زودتر به ولایت هرات سفر کرده و در انتقال کمک اعلام‌شده برای مهاجران دست به کار شوند.

BAYAT FOUNDATION

Nourishing the Lives of Afghans

او نوشته است: من ضمن اینکه توجه و رسیدگی نهادهای مسئول ملي و بین‌المللی را به این فاجعه انسانی خواهانم، از جانب بنیاد عزیزی کمک‌های ... **ص۳**

آغاز کار یک شبکه آبرسانی صحی در فاریاب

کار ساخت یک شبکه آبرسانی صحی به هزینه یازده میلیون افغانی در مربوطات ولایت فاریاب آغاز شده است.

به گفته این وزارت، شبکه آبرسانی یادشده قرار است در قریه «کوپلک بالا» از بخش‌های مربوط به ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب ساخته خواهد شد.

در مورد منبع تمویل مالی این شبکه آبرسانی صحی در خبرنامه چیزی گفته نشده است.

وزارت احیاء و انکشاف دهات گفته است: این شبکه شامل حفر یک حلقه چاه به عمق ۸۰ متر، اعمار یک ذخیره آب به ظرفیت ۴۰ متر مکعب و به طول ۲۰ کیلو متر پایپ‌دوانی می‌باشد.

انتظار می‌رود با ... **ص۳**

در میدان وردک یک زن از ظلم ۱۲ ساله نجات یافت

محتسبین امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر در ولایت میدان‌وردک موفق شده‌اند زنی را که از ۱۲ ساله به این‌سو تحت خشونت و ظلم قرار گرفته بود را نجات دهند.

ریاست امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر ولایت میدان‌وردک با نشر خبرنامه‌ای از این موضوع خبر داده است.

به گفته این ریاست، این زن در قریه «سنگلاخت» ساحه «سنگ فولک» ولسوالی جلریز ولایت میدان‌وردک زندگی می‌کرد و در ۱۲ سال گذشته از حقوق شرعی و انسانی توسط همسرش محروم شده بود.

در خبرنامه آمده که محتسبین پس از درج شکایت از سوی برادر این زن دست به کار شده‌اند. بربنیاد خبرنامه، محتسبین ... **ص۳**

دیدار وزیران امور خارجه امریکا و روسیه در مالیزیا



وزارت امور خارجه روسیه تائید کرده که قرار است سرگی لاوروف وزیر امور خارجه این کشور با مارکو روبیو، همتای امریکایی‌اش در مالیزیا به‌زودی دیدار کنند. ماریا زاخاروا، سخنگوی وزارت امور خارجه روسیه در گفت‌وگو با خبرگزاری دولتی روسیه (تاس) نشر شده، از این دیدار خبر داده است. به گفته خانم زاخاروا، برنامه‌ریزی برای دیدار لاوروف و روبیو در حاشیه نشست کشورهای عضو آسه‌آن که در کوالالامپور، پایتخت مالیزیا در حال برگزاری است، جریان دارد. او گفته است: می‌توانم تائید کنم که چنین دیداری در حال هماهنگی است. بربنیاد معلومات نشرشده، وزیر امور خارجه روسیه برای اشتراک در نشست‌های کشورهای عضو آسه‌آن در یک سفر دو روزه عازم مالیزیا شده است. در مورد موضوعات مورد بحث در دیدار دیپلوماتان ارشد امریکا و روسیه چیزی گفته نشده است. سلسله نشست‌های کشورهای عضو آسه‌آن تحت عنوان «پنجاه‌وهشتمین نشست وزرای خارجه» این کشورهای از ۸ تا ۱۱ ماه‌جاری میلادی (جولای) در مالیزیا در حال برگزاری است. در این نشست‌ها هیئت‌های امریکا، چین، هند، روسیه و اتحادیه اروپا به‌عنوان شرکا حضور دارند.

د امریکا په بهرنیو چارو وزارت کې د پراخ تنقیص ګواښ

د امریکا د بهرنیوچارو وزارت خپلو کارکوونکو ته د تنقیص ګواښ کړی دی. دا د ولسمشر ډونالډټرمپ د هغه اقدام یوه برخه ده، چې غواړي د دولتي ادارو د کارکوونکو شمېر کم کړي. تراوسه روښانه نه ده چې د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت په کوم شمېر کارکوونکي له دندو لیرې کوي. د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت په پام کې لري چې ځینې څانګې له منځه یوسي. په دې کې هغه دفتر هم شامل دی چې له امریکایي پوځیانو سره د همکارو افغانانو د مېشتېدنې چارې سمبالوي.

بلوچستان کې د یرغمل شویو مړي موندل شوي

پاکستاني چارواکي وایي د هغو نهو مسافرو جسدونه یې ترلاسه کړي، چې وسله والو په بلوچستان ایالت کې له یوه بس څخه یرغمل کړي وو.

د بلوچستان ځایي مسئولینو ویلي چې دا کسان تېره ورځ یرغمل شوي وو او مړي یې په غرونو کې موندل شوي دي. د دې پېښې مسئولیت چا نه دی منلی؛ خو له دې پخوا د پنجابي اتباعو د وژنې مسئولیت بلوڅ ازادي غوښتونکو منلی و.